د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د بلخ په ولایت کې نوی پوخ شوی سړک د خویندي او چټک ترافیکو پرمخ پرانیستئ دئ

مزارشریف، د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۱۲مه نیټه – نن د بلخ د ښار د څلورلارې او بنګله د پله ترمنځ د ۱۱ کیلومترو په اوږدوالي بیارغول شوی او نوی شوی سړک د بلخ د ولایت مقام ته وسپارل شو او په رسمي توګه د ترافیکو پرمخ پرانیستل شو.

د ترمیمي کارونو دمخه، د بلخ او بنګله ترمنځ سړک د کریږو یو خاورین سړک وو چې په کم سور سره د کلیو له منځه تیریده او د نقلیه وسیلو د بار توان یې نه درلود. د سړک په اوږدو کې لږترلږه ۱۰۰۰۰۰ تنه اوسیدونکو نشوای کولای په چټکه او خویندي توګه مزارشریف ته لاسرسی پیدا کړي. د دې سړک د ترمیمولو او نویکولو وروسته اوس خلک اوس د ولایت مرکز ته ډیر ښه لاسرسی لري. ناروغان کولای شي روغتونونو ته ژر ورسیږي، ماشومان کولای شي اوس ښوونځیو ته ولاړشي او کالي اوس په خپل مهال بازارونو ته رسیدلای شي.

د پرانیستلو په مراسمو کې د بلخ والی ښاغلي عطا محمد نور د کار پر کیفیت باندې یې تینګار وکړ، د بلخ-بنګله سړک به خلک روغتون، ښوونځی او محلی مارکیټونه چې په مزار شریف کې دي رسیدو کې مرسته وکړي. نوموړی د بلخ ولایت په استازیتوب د آلمان د مرستو څخه مننه څرګنده کړه.

د المان د همکاری د پروګرام استازي ټینګار وکړ چې د نوموړي سړک بیاودانول دا ثابتوي چې یو ولایت کولای شي د اختصاصي مرستو په کارولو سره ځانګړې پروژې پخپله طرحه او اداره کړي. هغه په ولایت کې د انرژۍ او اوبو د ریاست څخه د ټولو برخه والو سره د پروژې د پلي کولو په باب د بریالیو خبرو اترو له املې مننه وکړه چې په دې توګه به په افغان دولت باندې د خلکو د باور په ټینګښت کې مرسته وکړي. نوموړي ډاډ ورکړ، چې د دې ډول پروژو د پلي کولو دپاره چې د ولایت په کچه طرحه کیږي د آلمان د همکاری پروګرام به دوام وموميي.

د جوړولو ټولیز لګښت ۳۲،۳ میلیونه یورو (شاوخوا ۲۲۵میلیونه افغانۍ) ته ورسید چې د آلمان د حکومت له لورې د KfW پراختیایي بانک له لارې تمویل شو. دغه پروژه د سیمه ایزې بیخبنا د پراختیا د وجهي صندوق (RIDF) د یوې برخې په توګه ترسره شوه. دغه وجهي صندوق یو پرانیستی او انعطاف منونکی پروګرام دی چې د افغانستان په شمالي ولایتونو کې د ټولنیزې او اقتصادي بیخبنا او د پراختیایي پروژو د طرحې او تطبیق په لاره کې د ځایي حکومتونو د توان د سمون په موخه جوړشوی دی.

د بلخ او بنګله ترمنځ د سړک د جوړولو پروژه د بلخ د ولایتي پراختیایي کمیټې له لورې د هغه ولایت د پراختیایي لومړیتوبونو پر بنسټ ټاکل شوی وه. د بلخ ولایت د فواید عامې ریاست د نوموړي وجهي صندوق د انجینرانو سره یوځای د پروژې د کار څخه په نیغه څارنه وکړه.

د سړک ودانیز کار د ۲۰۱۳ کال د مارچ په میاشت کې پیل شو چې وروسته اوسنی د کریږ سړک په پاخه سړک بدل شو او پلګوټونه او د سړک په غاړه د زیم ایستنې ویالې جوړې شوې. د ۲۰۱۵ کال د جون د میاشتې راهیسې کله چې د بیارغولو او نوی کولو کارونه بشپړ شول، اوس دا سړک سورور شوی دی او مخه یې پخه ده او په دواړه اړخونو کې یې د سیلابونو په وړاندې ساتونکي او غښتلی کوونکي جوړښتونه برابر شویدي. دا نوی پوخ شوی سړک درنو نقلیه وسیلو ته امکان ورکوي چې په خویندی او چټکه توګه تیرشي او د بلخ ولایت د مرکز او بنګله د کلي ترمنځ د سفر مهال یې ډیر زیات کم کړیدی. اوس د بلخ د ولسوالۍ او د بلخ ولایت د مرکز اوسیدونکي په نیغه د دغه سړک څخه ګټه پورته کوي او بازارونو او عامه خدمتونو ته په آسانۍ سره لاسرسی پیدا کوي .

نوموړی وجهي صندوق د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) له خوا د KfW د پراختیایي بانک له لارې تمویلیږي او د Grontmij-GOPA-INTEGRATION د ګډ شرکت له خوا د افغانستان د مالیې، اقتصاد، انرژۍ او اوبو، د کلیو د بیارغونې او پراختیا، پوهنې، فواید عامې د وزارتونو او نورو ولایتي ادارو په ملتیا پلي کیږي. دغه وجهي صندوق اوس مهال د بلخ، بدخشان، بغلان، کندز، سمنګان او تخار په ولایتونو کې بیخبنایې پروژې پلي کوي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de